پوهنوال رسول باوري ۲۰۱۱/۱۰/۲۵

# روزګان
## که (اوروزګان یا ارزګان او یا بل ډول)

اړینه یادونه :
ما ددې لپاره چي په پښتو ژبه ليکنو او ويب پاڼو کښي د روزگان نوم سموليکل سي څه موده وړاندي په يوه لنډه ليکنه کي له پښتو ليکوالو او ويب پاڼو د مسؤلينو نه غوښتنه کړې وه چي د روزگان نوم سم وليکي. مگر ددې ولايت نوم ليکل تر اوسه په پښتو ليکنو کښي د ايرانی فارسی ژبې په دود ليکل کيږ.ي.
ددې لپاره چي دوستان دې ټکي ته جدي پام وکړي د روزگان په ملي مهالنی خپرونه کي زموږ د تکړه ليکوال او تاريخ پوه رسول باوري دا ليکنه نشر سوې ده، اوس ئې يو ځل بيا نشر د ويب پاڼو له لاري اړين بولم.غمخور

داصلي ليکنې پيل :
د سيمود نومونو اينبودل او د زمانې په لمن کي د هغو نومونو بدلېدل د زياتي حېرانتيا خبره نه ده. دا سي چي په سيمه کي د ميشتو وګړو کړه وړه د بدلون په حال کي دي، همداسي د سيمو په نومونه هم بدليږي. د سيمو د نومونو اوښتل او بدليدل په هغه هوډ پوري اړه لري چي ميشت اولسونه او اړوندي اداري يې د هغه نوم د ساتلو او يا بدلولولپاره لري. د وړو کليو ، ولسواليو ، ولايتونو او حتی هېوادونو نومونه د بيلا بيلو سببونو په وجه اوړي را اوړي. د سيمو او ځايونو د نومونوبدلون او اوښتون يوه داسي پر له پسې لړۍ ده چي سپړل او څيړل يې اسانه کار نه دئ. د دې همدې بدلونونو د څيړلو او پوهولو لپاره د نورو علمي څانګو تر څنګ د تاريخي جغرافيا په نوم يو خپلواک دسپلين شته چي د خپلو ځانګړو اصولو په کارولو سره مينه والو او اړوندو څيړونکو ته د هغو ئ دستونزو او پوښتونو حل وړاندي کوي.
تاريخي جغرافيا پوهان د نورو بنسټيزو دندو تر څنګ د تاريخي سيمو د نومونو او د هغو ټاټوبو د په نښه کولو دنده هم لري ، چي د زمانې په بهير کي په بيلا بيلو نومونو پيژندل شويدي. د سيمو د نومونو د اوښتون او بدلون هغه سببونه هم برملا کوي چي د نوم په بدلون کي اغيزمن و پيژندل شي. د تاريخي جغرافيا پوهانو په اند، د سيمو نومونه د بيلا بيلو عواملو پر بنسټ بدلون مومي. چي د هغو په لړ کي تر ټولو زيات سياسي، طبيعي،کلتوري او ژبني سببونه اغيزمن ښودل شويدي.
۱ : سياسي سببونه ؛ د سيمو د نومونو د اوښتون او بدلون په اړه د سياسي عامل اغيزه تر ډيره بريده روښانه بريښي، چي ښايې زيات لوستونکي يې دتوضيح پرته ومني. په سيمه کي سياسي پيښي، د اړوندي سيمي سره دنامتو شخصيتونو تړاو، د سيمي سياسي - نظامي ارزښت او نور هغه اغيزمن سببونه دي چي د سيمو د نومونو په بدلون کي غوښنه ونډه لري. د بيلګې په توګه، د بدخشان ولايت يوه ښيرازه ولسوالي د بهارک په نوم ياديږ.ي. چي تاريخي جغرافيا پوهانو په بېلا بيلو نومونو ثبت او ليکلې ده، بهارک د کوشاني پاچاهانو د څلورم ساتراپ ( ولايت ) يوه ستراتيژيکه سيمه وه او هغه وخت د لانشي ( Laanshi ) په نوم ثبت او ليکل شوېده. کله چي پر لانشي د عربي لښکرو واکمني پيل شوه نو د دې سيمي نوم يې بهارستان ( Bahaaristan ) کښېښودئ، او دا نوم تر هغه مهاله وساتل شو چي چنګيزيانو تر زياتو جګړو وروسته نوموړې سيمه تر خپلي ولکې لاندي راوستل، او د چنګيزي واکمنۍ سره يې يوځا نوم د بهارستان څخه په بهارک ( Bahaarak ) واړول شو، چي تر اوسه هم په همدې نوم ياديږ.ي. (عبدا لرحمن سديد
يوه بله بيلګه د امو سند پر څنډو پرته ينګي کلا ( ينګي قلعه ) ده، چي پخوا نئ نوم نومي ( Numi) وو، وروسته د احنف کلا په نوم ياده شوه او اوس يې اداري او منلئ نوم ينګي ده، او په روزګان ولايت کي هم دا ډول بيلګي زياتي دي. د روزګان ولايت مرکز ترينکوټ ښار لويديځ ته نږدې د داکتر مانده په نوم يو مانده او اړوندکلی شته چي د هغي سيمي د يوه نامتو شخصيت د نوم سره تړاو لري (* داکتر شهسوارخان په سيمه کي نامتو داکتر ؤ چي په غالب ګمان د ۱۳٤۰ مي لسيزي په دوهمه نيمايې کي وفات شو) د روزګان ولايت اړوند د چهار چينو ولسوالي هم يوه بله څرګنده بيلګه ده، د لومړي ځل لپاره دا ولسوالي د پرانستلو سره سم د شهيد حساس په نوم ونومول شوه ( مرحوم عبدالحليم حساس د دهراوت ولسوالی د ملا احمد لېسې فارغ او د هغې لېسې ښونکی ؤ چي په ۱۳۵۷ لمريز کال يې د ژوند ډيوه مړه شوه)، د سياسي اوښتون وروسته بيا د چهار چينو په نوم ياده شوه، او اوس مهال د خبري اژانسونو له خوا کله د شهيد حساس او کله د چهار چينو په نوم ياديږ.ي.
۲ : طبيعي سببونه : طبيعي پيښي هم د سيمو د نومونو په بدلون کي پوره ونډه لري. هغسي چي د نوم په اينوولو کي طبيعي سببونه اغيزمن دي، هم هغسي يې د سيمو د نومونو په بدلون کي اغيزه څرګنده ده. د يوې بيلګي په توګه د هلمند ولايت را يادوو، هغه سيند چي د اونئ غره څخه را پيليږ.ي د دايکندي او روزګان ولايتو نو څخه تيريږ.ي او بيا د


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

کندهار یو شمیر سیمي خړوبوي، تر هغه ورسته د هلمند ولایت ته رسیږي. هلمند نه یوازي دا چي د هېواد دیوه نامتو سیند په توګه پیژندل شوئ بلکي دیوه تاریخي سیند په توګه په اوستایي متونو کي د هیتومنت او یا هومینت په نوم هم یاد شوېدئ. د هلمند ولایت د نوم ایښوولو ستره انګیزه او هڅونکئ عامل، همدا د هلمند سیند او د هغه سیند د اوبو څخه په زیاته پیمانه ګټه اخیستنه وه.

د افغانستان په بیلا بیلو سیمو کي د داسي نومونو څرک لیدلای شو چي د طبیعي عارضې او پیښي سره تړاو لري، د بیلګي په توګه د مار غونډۍ په نوم د هېواد په زیاتو ولایتونو کي سیمي نومول شویدي. په هغو سیمو کي چي د مار په څېر د یوې ډېریني غونډۍ څېره تر سترګو شویده، اولسي وګړو همدا د مار غونډئ نوم ورته کارولئ دئ. په لغمان، پروان، بغلان او یوزیات شمیر نورو ولا یتونو کي د دا ډول نومونو بیلګي لیدلای شو. د تور غره او سپین غره نومونه هم دهغوئ د طبیعي جوړښت څخه اغیزمن شویدي. د خاص روزګان د ښار شمال لویدیځ لورته د ګرماو (ګرم اب) د سیمي نوم د هغه تودې چیني د شتون سره تړاو لري، چي په هغه سیمه کي د عام او خاص د ګټي وړ ده. په ترین کوټ کي د ښارد شمال ختیځ لوري څخه را غزېدلې مانده هم د هغو تودو اوبو په وجه د ګرماو مانده په نوم یادیږي، چي د ترین کوټ ښار څخه څه ناڅه دیرش کیلومتره بر سر د تودو اوبو دچینې تر څنګ راتیریږي. د دهراوت په زرتاله نومي دښت کي د راشکي غونډئ هم د دې ډول نوم ایښودلو بیلګه ده. ( راشکه غونډئ د زرتالې دښت په منځنۍ برخه کي پرته ده چي د غنمو او یا نورو غلودانو د راشې سره ورته څیره لري ، په دهراوت کي د میشت اولس تر منځ دا سي فکلوریکي کیسې شته چي وایې دا غونډئ او هغې غونډئ ته څیرمه د کورت کانو (قوروت) سیمه چي قروتو ته ورته دزیاتو وړو ډېرو اوکانوڅخه ډکه ده ټوله د هغه کارون (قارون) مال او ثروت ؤ چي د الله (ج) د قهر سره مخ شو، ټوله طلا او زیورات یې د قروتو په څیر ډېرین کاڼي شول او د غنمو راشه یې په شګلنه غونډۍ واوښتل، چي عام اولس یې د تصغیر کاف سره یوځای (راشکه) بولي او په دې ډول نوري بیلګي.

۳ : کلتوري او ژبني سببونه ؛ په یوه ټاکلې سیمه کي د میشتو وګړو اندونه او خیالات د سیمو د نومونو په ایښو ولو او بدلولو کي هغه اغیزمن ټکي دي چي د سیاسي او نظامي زور پرته ، پخپله د اولس په خوښه منل کیږي . په جوزجان ولایت کي یوه لرغوني غونډئ شته چي د طلا تپې په نوم پیژندل شوېده . د دې سیمي نوم د پخوا راهیسي دهغو فکلوریکو کیسو پر بنسټ ولاړ ؤ ، چي د اولس په منځ کي اورېدل کېدې ، د سیمو وګړو به ویل چي پخوانیو خلکوپه دې تپه کي طلا پټه کړېده چي اوس د لویو ښامارانو په وسیله ساتل کیږي . دا فکلوریکي کیسې هغه مهال رښتیني شوې چي د لرغونپوهانو په وسیله په ۱۳۵٦ _ ۱۳۵۷ لمریز کال هغه غونډئ وسپړل شوه او په نتیجه کي یې د اوو ( ۷ ) قبرونو څخه تر یویشتو زرو زیات طلایې اثار را بر سیره کړل . له نیکه مرغه دا اثار اوس دافغانستان ملي موزیم لپاره ستره لرغونې شتمني ګڼل کیږي . امو سیند ته څیرمه په تاجکستان کي د اجینه تپې په نوم یوه لرغونې تپه شته چي د سیمي وګړي یې د پیرانیانو ښار ګڼي ، او د روزګان ولایت په مرکز تیرنکوټ کي هم دا ډول سیمي شته چي د کلتوري او عقیدتي اغیزو لاندي یې نومونه ایښودل شویدي ، چي کافر کلا د هغو ډیرو بیلګو څخه یوه ده . کافرکلادلرغونو زمانو هغه یادګار دئ چي د ترینکوټ ښار ختیځ لورته څلویښت کیلومتره لیري د مرابات ( مهر اباد ) ښیرازي سیمي څنګ ته واقع ده . د دې لرغوني ودانۍپاتي شونې او نښانې لا اوس هم تر سترګو کیږي . کافر کلا یوه پخوانۍ ډبرینه ودانۍ ده چي پلنو او ډبلو دیوالونو یې د سیمي میشت وګړي په دې باوري کړیدي چي دا لویه ډبرینه کلا د پخوانیو کافرانو په لاس جوړه شوېده ، ځکه یې د کافر کلا نوم ورکړېدئ .

د ژبني سببونواغیزه د نورو اړونکو او بدلوونکو فکتورونو څخه زیاته بریښي . ژبه د ټولني سره یوځای وده کوي او بدلون مومي ، اود ژبي د بدلون او اوښتون سره یوځای د سیمو د نومونو بدلون هم را منځ ته کیږي . په دې برخه د ځو تاریخي بیلګو یادونه کوو : په اوستایې متونو کي د پخواني کابل وادي سهیل لوري ته پرته ښیرازه سیمه د ګندهارا او پلازمینه یې د هیلو په نوم یاده شوېده . ، یوناني جغرافیا پوهانو داسیمه د ګنداراتي او چینایي زیارت کوونکو نوموړې سیمه د کین تولو په نوم یاده کړېده ،او پلازمینه یې هیلو را پیژني . د جلا الدین اکبر دواکمنئ پر مهال په یوه لړ بدلون سره د هیلو نوم په هډه اوهډې ته څیرمه ، د نوي جوړ شوي ښار نوم جلا ل اباد کښیښودل شو . اود ټولي سیمي نوم لا پخوا د ګندهارا څخه په ننګرهار بدل شوۍ ؤ . همدا ډول د کوبها څخه کابل او د درنګیانا څخه زرنج جوړ شوېدئ . په روزګان ولایت کي یې تر ټوله څرګنده بیلګه د اوستایې مهال هیراویتي ده چي په لړبدلون سره یې د همدې ولایت په دهراوت ولسوالئ کي نوم خوندي دئ .

د روزګان نوم هم د همدې ورستي لا میل تر اغیزي لاندي اړول شویدئ. په زیاتو تاریخي متونو او لیکنو کي د ا نوم ( روزګان ) لیکل شوېدئ ، د بیلګي په توګه عربي نامتو جغرافیا پوه او مورخ بلاذري د اسلامي ځواکونو د فتوحاتو په لړ کي د بغنین ، زمین داور او ( روزګان ) نومونه یاد کړیدي ، په حدودالعالم من المشرق اللمغرب کي هم ( روزګان ) لیکل شوې دئ . د طبقات ناصري لیکوال قاضي منهاج سراج جوزجاني هم د پیښو په تړاو د یو شمیر سیمو د نومونو تر څنګ د ( روزګان ) نوم لیکلئ دئ ، نوموړئ د سیمو د ویش او اقطاعو د څرګندولو په برخه کي لیکي (( د سلطان غیاث الدین د ژوند پر مهال وجیر ، ګرمسیر، درمشان، روزګان او غزنئ د علا والدین محمد بن علی په اقطاع کي ؤ )). دا د هغو تاریخي متونو یو څو بیلګي دي چي د روزګان د نوم لیکلو په اړه یادشول . دیاد شوو



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تاريخي متونو په ډاډ، دا په ډاګه کيږي چي د دې جغرافيايي موقعيت د ښودلولپاره همدا يو رسم الخط ( روزګان ) کارول شوېدئ .

د دې ټکي يادول هم اړين ګڼم چي د ورستيو پيړيو يو شمير ليکوالو او مورخينو په خپلو اثارو کي د ( روزګان ) د ليکلو پر ځاى (( اؤرزګان)) يا (( ارزګان)) ليکلئ دئ، د بيلګي په توګه د تاج التواريخ ليکوال اعليحضرت عبدالرحمن خان ((اؤرزګان)) ليکلى (تاج التواريخ: ۲۳۲ مخ )، او د سراج التواريخ مولف فيض محمد کاتب دا نوم د (ارزګان) په څير ليکلئ دئ . د بيلګي په توګه هغه مهال چي فيض محمد کاتب د هزاره جاتو د بغاوت پاې ته رسولو په تړاو د سيمي نومونه يادوي داسي ليکي: (د کندهار حکمران د ګيزاب ګدامدار غلام حسېن خان ته د دولتي خزانې څخه شپږ زره کابلئ روپۍ د غوړو ، غنمو ، وربيشو او پسونو د پيرودلو لپاره ولېږل. ... وروسته بيا ځپونکي ځواکونه د فولادي لاري څخه زاولي او له هغه ځايه ( ارزګان ) ته ورسيدل .. .) ( سراج التواريخ : ۷۱٦ مخ ) . داعليحضرت امان الله خان د واکمنۍ پر مهال دجوړي شوي لويې جرګې د بشپړ راپور په چاپ شوې خپرونه کي د لويې جرګې د ټولو ګډونوالو نومونه ليکل شويدي ، او په دې لړ کي د روزګان د استازو نومونه هم شته ، چي د روزګان او شا او خوا سيمو څخه نوموړي لويې جرګې ته داستازو ، مخورينو او قومي مشرانو په نوم راغلي وه . د دې استازو د نومونو تر څنګ د د سيمي نوم هم ليکل شوېدئ ، په دې خپاره شوي اثر کي هم د روزګان نوم په ( ارزګان ) ليکل شوی دئ . د بيلګي په توګه وکيل عبدالغفور خان کاکړ ، دلاور خان ، محمد شريف خان مهاجر ، حاجي محمد عمر خان ، بلاد خان، حاجي خدايداد خان، عبدالرحيم خان، غلام محمد خان، داد محمد خان خروټئ، شهزاده خان، عبدالغني خان اڅکزئ د (ارزګا ن) څخه. د يادېدو ده چي يادشوي ښاغلي يوازي د روزګان د اداري واحد استازي وه. (دا نومونه د راپور په بيلا بيلو پاڼو کي د ٤۳۵ پاڼي څخه تر ٤٤۳ پاڼي پوري ثبت دي : رويدادهای لويه جرګه ۱۳۰۳ در پغمان ) د روزګان د نوم ليکلو تيروتني ته په پام سره علامه عبدالحئ حبيبي هم په خپل (جغرافيايي تاريخي افغانستان) نومي اثر کي په مکرره توګه ليکلي چي دانوم په تاريخي متونو کي روزګان راغلي خو ميرزاګانو يې دارزګان يا اورزګان په ډول ليکي (جغرافيايي تاريخي افغانستان : ۱۳٦ مخ).

د روزګان د ليکلو دود په زياته پيمانه د هغو ليکوالو له لوري په اوښتي ډول ليکل کيږي چي د دري ژبي ليکدود سره تړاو لري . د دري ژبووګړو تر منځ په وياندي ( شفاهي ) ادب کي عادي او معمول ده چي يو شمير نومونو او يا کليموته د الف توري زياتوي اود خپلي مفاهمې لړۍ جاري ساتي او د انديښنې پرته د خپل پام وړ کليمه يا نوم د ويلو وړ ګرځوي ، د بيلګي په توګه يوشمير هغه نومونه او کليمې چي د (س) په توري پيليږي ، د هغوسره د الف په زياتولو نوم ته بله څيره او نوئ املايې او ليکنيز ډول ورکوي ، چي په پښتوژبه کي د ( ستر ) کليمه په ( استر ) او د ( سپين ) کليمه په ( اسپين ) يې څرګندي بيلګي دي . د روزګان د نوم بدلون په ( اروزګان ) هم همداسي يو اوښتون دئ ، چي دري ژبو ليکوالو هغه شان چي اوريدلي يې دي او يا يې ويلي دي ، د نوم اصل او منشا ته يې د پام کولو پرته ، په (( ارزګان )) يا (( اوروزګان )) ليکلئ او معمول کړيدئ .

د يادېدو وړده چي د روزګان ولايت نوم د اعلى حکمرانئ له مهاله پاته دي. د اعلى حکمرانئ لومړنئ مرکز اوسنئ خاص روزګان ؤ . په افغانستان کي د ۱۳٤۲ لمريز کال اداري ويش له مخي د روزګان اعلى حکمرانئ ته د ولايت نوم ورکړل شو او پر هغه حکمرانئ يې ديو شمير نويو اداري واحدونو د زياتولو او د يوشمير نورو دليري کولو تر څنګ يې تيرين کوټ هم د روزګان ولايت د مرکز په توګه ياد کړ. هر هغي پريکړي يو کال وروسته د ولايت چاري په ترينکوټ کي پيل شوې، او په دې ډول اداري چارواکو د ولايت نوم روزګان او د پخواني اعلى حکمرانئ مرکز يې د خاص روزګان په نوم ومنۍ، چي تر اوسه هم په اداري چارو کي مراعات او کارول کيږي، په داسي حال کي چي د روزګان د نوم سره د خاص کليمه مښلول څخه بله موخه نه وه، د خاص کليمه يوازي د ولايت د نوم او د هغه اداري واحد تر منځ د بيلتون او تفکيک په نيت معمول وګرځول شوه.

د دې لپاره چي د روزګان تاريخي نوم وساتل شي ، د ولايت او هېواد په کچه اړوندي اداري او ليکوالان ، بايد په پر له پسې توګه د تاريخي متونو په څير د روزګان نوم په خپل رښتيني بڼه ( روزګان ) وليکي ، ويې لولي او وه يې وايې . او هم د دې نوم تاريخي بڼې ساتلو ته هوډمن پاته شي .

لنډه يادونه : دا ليکنه مي د روزګان خپروني لپاره چي په سويدن کي د ښاغلي حبيب الله غمخور په مشرئ د اخبارپه بڼه خپريږي، وليکل . د ليکني اخځونه په متن کي ياد شويدي، ځکه مي د هغو بيا ليکل اړين ونه ګڼل.

پاى


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ